مطبوعاتي اعلامیه

# د حزب التحریر د ودې پر ځای په دې اړه اندېښنه وکړئ چې اشغال او غربي ارزښتونو د "مقاومت له ځمکې" سره څه کړي او کوي يې!

هشت صبح ورځپاڼې د ۱۳۹۹ کال د مرغومې په ۱۴مه د" حزب التحریر در سرزمین مقاومت" تر عنوان لاندې مطلب خپور کړی دی. دا لیکنه له بې بنسټه تورونو او د حزب التحریر پر ضد له عقدو سپړنې ډکه ده. سره له دې چې د حزب التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر ددې لیکنې منځپانګه آن د ځواب وړ نه ګڼي، خو د عامه افکارو د اغوا د مخنیوي لپاره لاندې ټکي د یادونې وړ ګڼي:

**لومړی:** دا په هشت صبح ورځپاڼه کې د حزب التحریر په اړه ځوومه لیکنه ده چې هېڅ ډول عقلي، شرعي او د ورځپاڼې لیکنې معیارونه پکې نشته. له لیکنې ښکاري چې لیکوال د لیکوالۍ او قضاوت کولو له اصولو بېخبره دی. د متن له منځپانګې او جوړښت ښکاري چې لیکوال د حزب التحریر پر حقیقت نه پوهېږي او له مخلصانه څېړنې او پلټنې پرته یې خپلې ادعاوې د نورو پر بې بنسټه قضاوتونو درولې دي. په داسې وخت کې چې د افغانستان لویه برخه خلک د حزب التحریر دعوت له نږدې پېژني، په اسانۍ سره ددې ډول ادعاوو او تورونو ناسموالی درک کوي.

**دویم:** په لیکنه کې د "سرزمین مقاومت" د ارزښتونو یادونه شوې ده، خو لیکوال نه پوهېږي چې ددې خاورې اصلي ارزښتونه د شوروي اتحاد پر ضد له جهاد او د کمونیستي ارزښتونو پر ضد له مبارزې سره غوټه شوي دي. د همدې ارزښتونو پر اساس یې حزب التحریر ته غېږ پرانیستې ده. هغوی چې عزت یې په امریکایي نظم کې ولټاوه او دیموکراسي یې د ژغورنې لاره وګڼله، له څه ډول برخلیک سره مخ شول؟ اوس د پنجشېر مجاهد خلک ښه پوهېږي چې عزت یې په جهاد او د وارداتي او غیر اسلامي مفکورو پر ضد په مبارزې کې دی، نه په اشغال او د هغوی له ارزښتونو سره په تړښت کې. نن چې سېکولرېزم او لوېدیځ پروګرامونه یو په بل پسې ناکام شوي او امریکایي اشغال خپله زهرجنه توره د مجاهدینو مشرانو ته برابره کړې ده، څو هغوی له صحنې منزوي او حذف کړي. دا حزب التحریر دی چې د افغانستان مجاهد او مسلمان خلک د له لاسه تللي عزت او قدرت بېرته را ګرځېدو ته دعوتوي. نو لیکوال دې فکر نه کوي چې د پنجشېر مجاهد خلک نه پوهېږي او یوازې هغه پوهېږي.

**درېیم:** هشت صبح ورځپاڼې ته زموږ خطاب دا دی چې ددې ډول عقده‌يي، یو اړخیزو او سطحي لیکنو په خپرولو سره یې نه یوازې خپل اعتبار را ټیټ کړی او نشراتي توازن یې له لاسه ورکړئ، بلکې تر ډېره د اسلام او اسلامي ډلو پر ضد د عقدو سپړنې پر دریځ بدله شوې ده.

## د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر